(c) ketabton.com: The Digital Library

# نعت شریف

چې د چا صفت خدای کړې په قران دی
چې ښکاره لکه د لمر په ټول جهان دی

ماته نوم نه صدقه سپند سپیلنی کړې
چې نوم د محمد آخر زمان دی

هسې ځکه مقام ورکړې خپل خالق دی
چې په واړو انبیاو کې سلطان دی

که موسی په کوه طور کې کړې راز دی
اقا کړې ملاقات په لامکان دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# درحم!

دزړګي صبر مې نه شي برابر درحم
که په پښو مې ښوک وهې زه به په سر درحم

ګلي کور ته داوړغونډ شو
ګلابي رنګ مې تک تور غونډ شو

توکل زما په خدای چې یو چکر درحم
دزړګي صبر مې نه شي برابر درحم

رنګ مې زیړ لکه زعفران شومه زه
بې لنانه په جهان کې سرګردان شوم زه

سوځېدلی یم په اور سوی ځیګر درحم
دزړګي صبر مې نه شي برابر درحم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ارزو

ای زما پښتنو ورونو عزیزانو
ای زما دسترګو تورو په ما ګرانو

اجازت دخپو خبرو را کړئ ماته
چې په نظم ئې تحریر کړم وایم تاته

پاتې شوی دکاروانه چې پښتون دی
څکه حال ئې په نړۍ کې نن زبون دی

څوک رضا د اتفاق نه په نفاق دي
بعضې بیو د بل لید لوته مشتاق دي

څوک دحرص په نیشو کې شو غرقاب
زړه مې څکه د دې غمه شو کباب

څه مو شو په پوپړو کې مصروف
خرڅوی د کور کالي وي که ظروف

(c) ketabton.com: The Digital Library



یا به د اغیارو اوازغلی کړم
یا به تورو اوبل دخاوره وخلی کړم
بله خوښوک نه یم شان شوکت مې ملالو ته ندې

تورې سترګی سره لبان به څه دخوښۍ سره
ښه ښتوپکه مې خوښ دی چلولو کې جلتۍ سره
څه چې څو ستمګار غوښ مې سا دغه مصروف ته دی
سور سالو په سرولاسو نیولی مې زلمو ته دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# وطن وطن به وایم

زه چې پیدا شوی یم په کوم گلوگلشن کې
وطن - وطن به وایم سلګو د خُنکدن کې

وطن خو زما کور دی هم مې کور هم یې ایمان کښم
ځان د خپل وطن بولم وطن هم د خپل ځان کښم
خاپورې مې دي کړې د خپل نیکه مسکن کې
وطن - وطن به وایم سلګو د خُنکدن کې

وطن ازاد و مه شکر زه هسې ځوانان لرم
عزم چې فولاد د لري هغه آتڼګان لرم
راولي سپرلی به زمو نږه په چمن کې
وطن وطن به وایم سلګو د خنکدن کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



سل کاله ژوندون نه ثانیه دا نا دی ښه ده
سل ځله بهتره څنګه دن ګني تري سلګي ښه ده
وګوره شاعره کم وزیات مي په سخن کي
وطن وطن به وایم سلګو د څنګدن کي

خدا یه ملګری مسلمانو مجا هد وشي
سري په تلی کي ته شاهد د شواهد وشي
وګوري ستمګار د ازادی هغه اتن کي
وطن وطن به وایم سلګو د څنګدن کي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# شکر خدایه

شکر ـ شکر چي پیدا دي مسلمان کړم
بیا په دین د محمدؐ اخر زمان کړم

په مذهب دی د نعمانؒ کرم افتخار دی
ډیر ممنون یم چي لایق دي د احسان کړم

چي هر دم مي کلمه په خوله جاري وي یا
فراموش به کله دا په دي جهان کړم

هسي رنګ احسان دی کړی یم خوشاله
په دی عمر دی خالقه نه شادان کړم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بل ګرم نه دی

دګناپېټی مې پروت په سر دغر دی
ما جوړه کړې په هېڅ لوتر ینه ونه دی

ملامت یم مخ مې تور او خجالت یم
سبه معلوم ناته ستا امر مُعتبر دی

ما د نفس شیطان منلي بل ګرم نه دی
سبه پوهېږم ځکه لا ندې اسمان بر دی

بې وقوف چې څوک جسوځ په زړه بدل کړي
دا متل دین او دنیا ته یو منظر دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ژوند جونګړه

د زړګي سره کړوي مې څـــلـــه؟
د سترګو توره څوروې مې څله؟

د جبین خال دې ګناه کړی یمه
په تار د زلفو زنګوې مې څـــلـــه؟

یو ځلې ماته مسکا غوندې شــه
ګرانه په هجر سوځوې مې څلـــه؟
د سترګو توره څوروې مې څـــلـــه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غونچه د ګلو

څانګه یې جوړه کړې یې په ائینې کښې په چکر راغله
غونچه د ګلو په نظر راغله

سترګې چې تورې په کجل کړې
رفتار د زړه کړې په مزل که
عاشقو سیځي په تور اوربل که
د سبا پېرۍ په شکل تېزه په هنر راغله
غونچه د ګلو په نظر راغله

ناز ځلا ده السرې بيان
هر ځه ته ولاړه یم په انتظار.
په کوم طرف لري اختیار

(c) ketabton.com: The Digital Library



# راشه!

زما د مينې قدر داني راشه!
غوټۍ د ګلو مهرباني راشه!

ستا په يادون کې لېونۍ غونډۍ شوم
د ځانه زياتې په ما ګراني راشه!
غوټۍ د ګلو مهرباني راشه!

د خيال په تال کې تصور غرېږوم
ناز و ادا کې قهرماني راشه!
غوټۍ د ګلو مهرباني راشه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



څه به وایم سهوه شوی ملامت یمه نه
لویه خدایه! تاته ډېر زیات خجالت یمه زه
عمرتېرشو دشیمشګار ستا په خوښکاري
دا جونګړه مې دخیال په ړنګېدو ښکاري

(c) ketabton.com: The Digital Library



که یوه لحظه په سینه کې دیار ځنې جدا شمه
هغه دم به له دُنیا ځنې فنا شمه
داګوهر مې په ځپل او سکوکې مړندلی دی
دا زړګی مې دګوګل ځنې وتلی دی

د ستمګار کاموال ژوند ته یو نظر وکړئ
غمازانو خدای د پاره لږ خطر وکړئ
په دی لار کې مې د ځانه لاس وینځلی دی
دا زړګی مې دګوګل ځنې وتلی دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دېدن

په وجود کښې مې اثر دعشق شاق دی
یو دېدن ته داشنا مې زړه مشتاق دی

هغه زلفې مې په لاس کښې یو ځل راشه
چې له فیضه ئې معطر واړه آفاق دی

چې نه توپ نه یې جهان نه یې لښکر شته
د حسینو خلکو خو من طمطراق دی

چې په عقد دعشق نراوې په نکاح که
ننګ و نام نه ئې په هغه دم طلاق دی

د ښایسته ؤ طائفې ته عزت سبو یه
دعشقو زړو ندونا هسې په ملاق دی
د حسینو سترګو خوګ دې نوکرنه دی
چې یې مخ لکه پیروی یا قیماق دی
دا کېدی شي چې سیمساړ دی لایق نه وی
خوبانې دې ما ته هسې جفت و تاق دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ګلونه

ټوکو ټکالونه جنګو نه شي جوړ
نړو نه چې بد شي نور کار ونه شي جوړ

هر خبره کښې لږ سوچ دی پکار
دلمدې ژ بې نه غمو نه شي جوړ

انسان تابع وي د احسان په بدل
ګوزار د خولې نه د ېر زخمونه جوړ شي

خبرې لږې خو خو ږې دي پکار
د برو خبرو، نه درد ونه شي جوړ

خاموشي سبه ده که دی خو سبه راشي
دکم ویلو نه ګلو نه شي جوړ

سیمستاره! لږ لیکه مزې سره شعر
چې دې خبرو نه شعر و نه شي جوړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



# توره او قلم

پخپله توره او قلم کښې ولولې را ولــه
کوره د دښمن کښې بې اندازه زلزلې راوله

تاریخ د ستا په باباګانو افتخار کوي ستـــ
ذهن او فکر ته دې مخه تجلي راو لـــه

نوم د اسلام او د افغان جهان چپل نمر ګنې
هر یو بدخوا ته دې په تن قهر و خولې راوله

په یوه چغه نوم د الله اکبر و وا یـه
بیا نو پرولې د آزادۍ دې دلیلې را ولــه

خلک تاریخ کښې کارنامې دې دنیکونو ګوري
څرخ د تاریخ کښې د آزاد وطن نخښې را ولــه
سیمستاره شعر دې په خوږ ولو په ترخو کړه رنګین
د ظالمانو په وطن د غم مــالې را و لـــــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مسهٔ وایه

چاته د دنیا کښې په هیڅ شان څه پیغور مه وایه
چې دی د پلار او مور ره نه وي ورته وروز مه وایه

پر دي زامن کله خپلېږي نصحت که اوري
چې خور دی نه وي د بل لورته عبث خور مه وایه

زمانه تګه شوه سازش د زمانې شو ذهین
په رښتو ستر ګوګرانه ورور ورته سپین ته تورمه وایه

دنیا فاني ده د ملمه پښانې شپې تېروه
فانی جونګړې ته دې کور او زما کور مه وایه

قام ته دو بچو او سبان چې په هنر جوړوې
هسې غدار، هسې وا کدار ته څه غخېږ مه وایه

چې سر یې سپین، بڼېره یې سپینه زړه یې خوان شکاري
شاعره محکې د سیمسار نوره دریڅلور مه وایه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ساقي جان جانا

ساقي راکړه سره شراب د يار د مينې
چې نشه ئې ه اشنا بهار د مينې

اوان ونه دي خواته د کينې ولو ستا
ستا خبرې شوې عسل ګفتار د مينې

نيت مې کړی ميخانه دی پټوله نوش کړم
سوړ به نه شي دغه تاو انګار د مينې

د وه لاسي د رته سلام کړم ساقي جان جان!
وينې څاڅي مې د زړه پر هار د مينې

که په هسې جوش خروش کې مې يار وليد
دويم يار به شي ساقي نيګار د مينې

پټه خوله لکه غوټه شاعر د مينې
غوړ به وته دی تيار سيمګار د مينې

